
**د افغانستان د اقلیمي ګواښونو وړاندوینه- د اقلیمي وړاندوینو د مرکز له خوا**
**د امریکا متحدو ایالتونو د نړیوالې پراختیا ادارې (USAID) د قحطۍ د واردمخه خبرداري سیستمونو د شبکې (FEWS NET) لپاره**
**د ۲۰۱۹ کال د سپټامبر میاشتې له دولسمې څخه تر اتلسمې نېټې پورې**




## د تودوخې درجه:


د تېرې اونۍ په ترڅ کې د تودوخې د درجې کچې په منځنۍ توګه توپیر درلود. د تودوخې د درجې مثبت انحرالونه د سانتي ګراد د ۸ درجو په اندازه د هېواد په شمال او ختیځ کې او کوچني منفي انحرافونه د هېواد په شمالي سیمو کې په ثبت ورسېدل. د مني د موسم له پیل سره جوخت د تودوخې اندازه د کمېدو په حال کې ده. د تودوخې تر ټولو لوړه درجه د هېواد په ټیټو پرتو سیمو کې د سانتي ګراد له ۴۰ درجو څخه یواځې یوڅه ټیټه وه.

د وړاندوینې د دورې په اوږدو کې د افغانستان د دوه پر درېیمې برخې لپاره له نورمالې کچې څخه سړه هوا اټکل شوې ده. برعکس، د هېواد په سویل ختیځ کې به د تودوخې درجه ښایي له نورمالې کچې څخه لوړه وي. په سویلي ولایتونو کې به د تودوخې تر ټولو لوړه درجه د سانتي ګراد له ۴۰ درجو څخه لږڅه کښته وي. په غرنیو سیمو کې به د تودوخې تر ټولو ټیټه درجه د سانتي ګراد له صفر درجې څخه هم راټیټه شي.

## وربښت:

د تېرو اوو ورځو په اوږدو کې هوا په موسمي لحاظ د افغانستان په ګڼ شمېر سیمو کې وچه وه. د هېواد په شمال ختیځ کې سپک بارانونه (له ۱۰ ملي مترو څخه لږ) ولیدل شول.  د نباتي پوښښ وضعیت خورا ښه دی. خو له دې سره سره، په څو شمالي ولایتونو کې د نباتاتو د روغتیا د شاخص شمېره ټیټه ده چې لامل یې کېدای شي د تودوخې د درجې لوړوالی او له نباتاتو څخه د بخار او خولو وتل وي. په راتلونکو اوو ورځو کې د هېواد د ګڼ شمېر سیمو لپاره په موسمي لحاظ د وچې هوا وړاندوینه شوې ده. خو د هېواد په شمالشرقي پولو کې له پاکستان سره د ګډې پولې پر سر د یوه یا دوه وربښتونو شونتیا شته.

# د منځنۍ آسیا د اقلیمي ګواښونو وړاندوینه- د اقلیمي وړاندوینو د مرکز له خوا
# د ۲۰۱۹ کال د سپتامبر میاشتي له دولسمي څخه تر اتلسمي نېټي پورې



**د تودوخې درجه:**

د سپټامبر میاشتې د لومړۍ اونۍ په اوږدو کې په مرکزي آسیا کې د تودوخې درجه له نورمالې کچې څخه ټیټه (د سانتي ګراد له -۱ څخه تر -۶ پورې) وه. د قزاقستان په شمالي او مرکزي برخو کې، چېرته چې د سړې هوا لومړۍ څپه په ثبت ورسېده، د تودوخې تر ټولو ټیټه درجه د سانتي ګراد یوې درجې ته راکښته شوه. د راتلونکې اونۍ لپاره وړاندوینه شوې ده چې د تودوخې تر ټولو لوړه درجه به په منځنۍ توګه د اونۍ په وروستیو ورځو کې له نورمالې کچې څخه لوړه وي. تمه کېږي چې سړه هوا به د قزاقستان په شمال ختیځې برخې پورې محدوده وي.

**وربښت:**

د قزاقستان دوه پر دریېمه شمالي برخه کې پراخ وربښتونه وشول، خو تر ټولو درانه وربښتونه (څه دپاسه ۲۵ ملي متره) د وچکالۍ ځپلې سیمې په ختیځ کې ولیدل شول. اوس مهال وچکالۍ ځپلو سیمو کې هغه سیمې شاملې دي. د وچکالۍ له ګواښ سره مخ سیمې اوس مهال هغه سیمې دي چې پکښې د وربښت ۹۰ ورځنۍ کمښت یوڅه ستر (۵۰ تر ۱۰۰ ملي متره) دی. همدارنګه په وچکالۍ ځپلو سیمو کې د نباتاتو د روغتیا د شاخص وضعیت هومره ښه ندی.

د هواپېژندنې GFS موډل د راتلونکې اونۍ لپاره د قزاقستان په شمالي او لویدیځو برخو کې د وچې هوا خبرداری ورکوي. د سپټامبر میاشتې په لومړیو کې معمولاً د هند د وربښت اقلیم د خپل ځای په بدلولو پیل کوي او له پاکستان څخه د ختیځ په لوري خوځېږي.

**یادونه: د خطرونو د وړاندوینې دغه نقشه د موجودو جوي/ اقلیمي معلوماتو او د هوا د حالاتو د لنډ مهالي تر منځ مهالي (تر یوې اونۍ) وړاندوینې پر بنسټ ولاړه ده او د کرنیزو حاصلاتو پر وضعیت او څرخایونو باندې د هغو بالقوه اغېزې ځېري. هغه سیمې چې پکښې غیر نورمال شرایط لیدل شوي دي شاوخوا یې کرۍ چاپېره شوې ده. د لویې وچې په کچه دغه مقیاس کې د دغو کرېو پولې یواځې په تقریبي ډول وړاندې شوې دي. دغه محصول موسمي اوږدمهالې اقلیمي وړاندوینې نه کوي او دم ګړی یا راتلونکې کې د خوړو خوندیتوب ته هم کومه اشاره نه کوي.**

د قحطۍ د واردمخه خبرداري سیستمونو شبکه (FEWS NET) د امریکا د متحدو ایالتونو د نړیوالې پراختیا اداري (USAID) له خوا تمویل شوې یوه پروژه ده چې د خوړو د خوندیتوب د وضعیت په اړه د عیني معلوماتو د برابرولو په ډګر کې فعالیت کوي. د دغې شبکې لیدلوري لزوماً د USAID اویا هم د امریکا متحدو ایالتونو د حکومت د لیدلورو منعکسوونکي ندي. د هوا د حالاتو وړاندویني چې د دغې شبکې له خوا وړاندې کېږي د FEWS NETG د سیمه ییزو دفترونو او مرکزي دفتر، ، NOAA-CPC، USGS، USDA، NASA او د اړوندو هېوادونو د یو شمېر نورو ملي او سیمه ییزو ارګانونو د ګډ کار محصول دی. مهرباني وکړئ د دغه محصول په اړه خپلې پوښتني او نظرونه دغې برېښنا پتې Wassila.Thiaw@noaa.gov ته واستوئ او یا هم له 3424 -683 -301 -1 شمېره ټلیفون سره په اړیکه شئ. همدارنګه کولای شئ د USAID FEWSNET د کړنو په تړاو خپلې پوښتنې د USAID د پروګرامونو د مدیر ښاغلي ګیري ایلیرتز د ټلیفون شمېرې 1-202-254-0204 یا د نوموړي برېښنا پتې geilerts@usaid.gov باندې راواستوئ.